مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محب‌الله زغم

۲۰۲۳/۰۹/۰۶

# زموږ او د نورو کنفرانس

سږ پسرلی په کابل کې یو نړیوال طبي کنفرانس جوړ شوی و او بیا د اګسټ په ۲۰ مه همدغسې نړیوال طبي کنفرانس په ډیلي کې و. زه دواړو ته ورغلی وم. د کابل طبي کنفرانس زموږ د لومړیو تجربو محصول و خو بیا هم تر ډېره بریده معیارونو ته نژدې و. ما د دې دوو کنفرانسونو تر منځ ځینې مشابهتونه او ځینې توپیرونه ولیدل. دې توپیرونو ته په کتلو سره به موږ وشو کولای خپل کنفرانسونه لا پسې ښه کړو. توپیرونه دا دي:

راجسټرېشن: په نړیوالو کنفرانسونو کې ټول ګډونوال باید وار له مخې راجسټر شي. د کنفرانس جوړونکي هر ګډونوال ته د غاړې کارت، بکس، قلم، د کنفرانس اجنډا او ځینې نور شیان ورکوي. په دې برخه کې د کنفرانسونو توپیر په دې کې و چې په ډیلي کې راجسټرېشن د انټرنټ له لارې شوی و، هر چا ته د هغه راجسټر نمبر په اي مېل کې ورلیږل شوی و. موږ چې څنګه د کنفرانس سالون ته ننوتو، کارتونه مو تیار ایښي وو نو په دې حساب راجسټرېشن خورا لږ وخت ونیو. د کابل په کنفرانس کې هم ډېرو ګډونوالو ته کارتونه تیار وو خو هغه کسان هم کم نه وو، چې کارت ورته نه و جوړ او دوی تقریباً څلوېښت دقیقې وځنډېدل چې کارتونه یې چاپ شي. دا د اداري مسأله او ستونزه وه.

د کوم کنفرانس وینا وال غوره وو؟

د کابل د کنفرانس ځینو ګډونوالو شکایت کاوه چې یو نیم لکچر ورکوونکی مو پخ و. هلته په ډیلي کې ټول لکچرورکوونکي د زړه پروفیسران وو، ځینې هندیان وو او ځینې له امریکا او اروپا څخه ورته راغلي وو خو په دوی کې هم د ځینو لکچرونه ستومانونکي وو. سږی دا نتیجه اخیستلی شي چې دا بیخي فردي مساله ده، ممکن یو څوک پخپله ډېر وپوهېږي خو نور به نه شي پوهولی. د ښه پرېزنټېشن (presentation) ځینې تخنیکونه دا دي:

- اورېدونکو سره د سترګو نیغه رابطه: ځینې کسان د پرېزنټېشن پر وخت یوازې خپل کمپیوټر ته ګوري او پر له پسې خبرې کوي. دا کار اورېدونکي ستړیوي. لکچر ورکوونکی باید له اورېدونکو سره صمیمي رابطه ټینګه کړي.
- په بحث کې د اورېدونکو شریکول: د ډیلي په کنفرانس کې اکثر پرېزنټېشنونه داسې وو چې مسایل به په کې د ګڼ ځوابي پوښتنو (multiple choice) په بڼه وړاندې کېدل، هر ګډونوال به د رایې ورکولو الې ( voting pad) له لارې په بحث کې برخه اخیستلی شوه. پر سکرین به د اورېدونکو د ځوابونو ګراف څرګند شو، بیا به که د اکثرو کسانو ځواب سم او یا نا سم و، لکچر ورکوونکي به خپل بحث ته ادامه ورکړه او سم ځواب به یې تشریح کړ. زموږ په کنفرانس کې دغه شی نه و نو په همدې وجه ممکن ځینې ګډونوال ترې خوند نه وي اخیستی. دا تخنیک له زده کړې سره هم مرسته کوي. هغه موضوع چې سړی یې په اړه پوښتنه ځوابه کړې وي، تر ډېره عمره د سړي په حافظه کې پاتې کېږي.
- خپلې تجربې یادول: ځینې کسانو په دې کنفرانسونو کې یوازې د غربي منابعو معلومات، احصایې او ارقام وړاندې کول خو پر دې باندې یې بحث نه کاوه چې د دې تجربه څه وایي، ایا د ده پریکټیس هم هماغه احصاییه تاییدوي که نه؟ اورېدونکو ته دا په زړه پورې وي چې په علمي مسایلو کې د خپل محیط انځور ووینې او د خپلې ټولنې ستونزې ورته بیان شي.
- د فصاحت او بلاغت مساله هم په وینا کې زیات اهمیت لري چې څوک یې لري او څوک یې نه لري. که سړی تر کنفرانس مخکې خپل پرېزنټېشن بیا بیا په لوړ اواز ووایي ممکن د ارایې پر وخت د فصاحت او بلاغت له نظره ستونزه ونه لري.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

- ټول اوریدونکي په پام کي نیول: د ښو لکچر ورکوونکو یوه عمومي ځانګړتیا دا ده چي موضوع له ابتدا څخه پیلوي او په داسي اسانه ژبه یې بیانوي چي ټول اوریدونکي پرې وپوهیږي. ځیني ګمان کوي چي که د موضوع په باب ابتدایي خبرې وکړي نو دا به ورته کسر شان وي او یا به فکر کوي چي پر دې خو نو هر څوک پوهیږي نو موضوع له بل ځایه پیلوي. په وینا کي باید هغه کس هم هېر نه کړو چي ممکن د موضوع په باره کي بیخي معلومات ونه لري.

علم او سیاست:

د ډیلي د کنفرانس موضوع د زړه د ناروغیو د درملني نوي لاري چاري وه. سره له دي چي د زړه په طبابت کي پاکستان هم کافي پرمختګ کړی او تکړه ډاکتران لري خو په دې کنفرانس کي پاکستاني ډاکتران نه وو. د هند او پاکستان تر منځ ترینګلو روابطو ته په کتلو سره دا منلی شو چي سیاست د دغو هیوادونو په هر ډګر باندې اثر غورځولی دی.

زموږ کنفرانس چي ایمېجینګ (imaging) یعني د تصویري وسایلو په مرسته د ناروغیو تشخیص څېړه، د افغان فارما دوایي شرکت له خوا جوړ شوی و. په دې کنفرانس کي د ایران، تاجکستان او افغانستان ډاکترانو برخه اخیستي وه. د کنفرانس موخه د ډاکترانو تر منځ د تجاربو شریکول وه. دا خو جوته خبره ده چي تاجکستان په طبابت کي داسي څه نه لري چي موږ ته نوي اوسي. پاکستان او هندوستان چي له غرب سره د نژدیوالي په برکت په ټولو علومو او په خاصه توګه په طب کي تر ایران او تر ډېرو اسیایي ملکونو ډېر مخکي دي، په دې کنفرانس کي استازي نه لرل. د افغان فارما د شرکت رییس په خپله افتتاحیه وینا کي د ((سه کشور هم زبان)) خبره رایاده کړه، دغه شرکت چي تر ډېره حده ایراني دواګاني واردوي، ښایي د ایران د سیاستونو تر اغېز لاندي راغلی وي.

د کنفرانس د وینا والو ژبه:

زموږ په کنفرانس کي ټولو ویناوالو په پارسي ژبه خبرې کولي خو په ډېر تفاوت سره: زموږ د طب په پوهنځیو کي طبي اصطلاحات په لاتین او عربي ژبو باندې تدریسیږي. ایرانیانو ډېرو اصطلاحاتو ته خپلي کلمي جوړې کړې دي. تاجکستانیان چي پخوا دغه اصطلاحات په روسي ژبه ویل اوس دوی هم د ایران په پېښې خپل اصطلاحات وضع کوي. مثلاً زموږ په ټرمینالوژۍ کي د رحم لاندیني برخي ته ((cervix)) او په عربي کي ((عنق رحم)) وایي خو تاجک ډاکتر دغه اصطلاح ((ګردنک بچه دان)) وویل، نو د ایراني ډاکتر په اکثرو اصطلاحاتو موږ او تاجکان نه پوهیدلو، زموږ په خبرو دوی نه پوهېدل. موږ او دوی د لاتین او انګریزي اصطلاحاتو په تلفظ کي هم سره توپیر لرو: موږ د اصطلاحاتو انګریزي تلفظ وایو: لکه لوړ فشار ته هایپرټنشن (hypertension) وایو خو ایرانیان او تاجکان د اصطلاحاتو فرانسوي او روسي تلفظ کاروي، دوی همدغه اصطلاح هیپرتانسیون تلفظوي.

د ډیلي په کنفرانس کي له ایتالیا، جرمني او فرانسي څخه هم ډاکتران راغلي وو، د دوی مورنۍ ژبه انګریزي نه وه خو ټولو خپل لکچرونه په انګریزي ژبه ورکړل. انګریزي داسي ژبه ده چي ټول ډاکتران باید پرې وپوهیږي. ښه به دا وي چي نړیوال کنفرانسونه مو په انګریزي ژبه وي. که کنفرانس په انګلیسي ژبه وي نو د اصطلاحات تلفظ به هم یو شان شي.

پوهه که پیسي؟

د ډیلي د کنفرانس لګښت د دواګانو لویو کمپنیو په غاړه اخیستي وه خو چا یي حتی نوم هم وانه خیست. دوی ته د کنفرانس د جوړولو په بدل کي ایله دومره امتیاز ورکړل شوی و چي د کنفرانس د تالار په څنګ دهلېز کي د خپلو تبلیغاتو لپاره وړې غرفي جوړې کړي.

زموږ کنفرانس چي د افغان فارما په مالي ملاتړ جوړ شوی و، له سره تر پایه د دغه کمپنۍ په تبلیغاتو ډک و. له دې ښکاري چي په هند کي پوهه تر پیسو ډېر ارزښت لري او پیسي د پوهي په خدمت کي دي خو دلته خبره اپوټه ده. بیا هم ځنګه چي زموږ په هېواد کي تر اوسه چا د علمي کنفرانسونه لپاره یوه ټنګه هم نه ده ورکړې د افغان فارما دغه هڅه د ستایلو ده.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ